# د دوزخ حال

## عمومي معلومات

د اسلام د لارښووونو سره سم دوزخ داسې ځای ته ویل کیږي چې الله تعالی د هغه کسانو لپاره برابر کړی دی چې په هغه (الله ج) باندې ایمان نه راوړي، د هغه د قوانینو سرکشي کوي او د هغه پیغمبر نه مني. دوزخ یو حقیقي ځای دی نه دا چې یوازې یو خیالي ذهني انځور وي. ډار، درد، ربړونې او کړاوونه یې ټول ریښتیني دي خو دومره فرق یې دی چې د دنیا له اور ښځه فرق لري. دوزخ تر ټولو ستر سپکاوي او حقارت دی او له دوزخ ښځه بل ستر سپکاوی نشته:

ای زمونږ ربه! بیشکه هرڅوک چې تا اور (دوزخ) ته داخل کړ نو په تحقیق سره تا هغه رسوا کړ ای ربه! آل عمران ۱۹۲

آیا دوی په دې نه دي پوه شوي چې بیشکه شان دا دی هر څوک چې مخالفت کوي د الله (ج) او مخالفت کوي د رسول الله، نو بیشکه ده ته مقرر دی اور ده دوزخ، حال دا چې تل به وي دی په دغه دوزخ کې او هم دغه (خلود) ډیره ستړه رسوايي ده. التوبه ۶۳

## د دوزخ نومونه

دوزخ په اسلامې منابعو کې ډیر نومونه لري. هر نوم

يي ځان ته معني ده. د دوزخ بعضي نومونه داسې دي:
جهيم – اور – د شغله کيدونکي اور په سبب يې
جهنم – دوزخ – د کندې د ژور والي په سبب يې
سعير- شغله کيدونکی اور – ځکه چې اور اخيستونکې او ډير توديدونکی دی
حطمه – دې ته د وليدونکې شيانو د ټوټو په سبب – ځکه چې هر شی چې دې ته ولويږي هغه پارچه پارچه او ټوټه ټوټه کوي
حاويه – ګړنګ يا بې حده ژور ډنډ – ځکه څوک چې دلته ور لويږي له پورته (پاس) څخه ښکته وراچول کيږي.

## دوزخ او جنت اوس مهال شته او تل پاتې (ابدي) دي

دوزخ همدا اوس شته او د تل لپاره به وي. دوزخ به هيڅ کله له منځه ولاړ نشي او د دوزخ اوسيدونکي به هم تل په دوزخ کې پاتې شي. هيڅ څوک به له دوزخ څخه بيرون نه کړای شي بغير له هغه ګناه کارانو څخه چې د الله تعالی په يو والي باندې يې ايمان راوړی او د الله تعالی په پيغمبرانو باندې يې (کوم چې له محمد ص نه مخکې وه) ايمان راوړی. کافرانو چې د الله تعالی په يووالي باندې ايمان نده راوړی تل په دوزخ کې پاتې شي. د دوزخ په اړه همدا باور د اسلام له پيل څخه تر

اوسه پوری یو شان دی ځکه دا خبره د آیت او د رسول الله (ص) په مختلو احادیثو باندې ثابته خبره ده. قرآن پاک د دوزخ په اړه د تیر زمان په شکل کې خبرې کوي یعنې چې دوزخ له مخکې نه چمتو شوی دی او شتون



لري:

او له هغه اور څخه وویرېږئ چې د کلفرانو لپاره چمتو کړای شوی دی. آل عمران ۱۳۱

رسول الله (ص) فرمايي:

«کله چې څوک مري، هغه ته د هغه ځای (د قیامت نه روسته ژوند کې) هره شپه او ورځ ورښودل کیږي. که هغه جنتي وي، هغه ته د جنتیانو ځای ورښودل کیږي. او که هغه دوزخي وي، هغه ته د دوزخیانو ځای ورښودل کیږي. هغه ته ویل کیږي دا ستا ځای دی، ترڅو چې الله تعالی تا یو ځل بیا د قیامت په ورځ را وژندی کوي (راپاڅوي).» [صحیح البخاری، صحیح المسلم]

او په بل ځای کې رسول الله (ص) فرمايي:

«بې له شکه د مؤمن روح د یوه برنده په توګه د جنت په

ونه کې زوړند وي، ترڅو چې يې الله تعالی روح بيرته د هغه بدن ته د قيامت په ورځ ورګرځوي.» [مالک]
له پورته ليکنو څخه په وضاحت سره ښکاري چې جنت او دوزخ شتون لري، او کيدای شي چې روح د قيامت له ورځې څخه مخکې هغوی (جنت او دوزخ) ته ور ننوځي. د دوزخ د ابديت په اړه الله تعالی داسې فرمايلي دي:

دوې بدغواړي چې د دوزخ له اور څخه ووځي حال دا چې هغوی به له هغه اور څخه وتونکي نه وي او دوی ته عذاب دايم دی (بې انتهاء بلا انقطاع) المائده ۳۷
او نه به وي دوی وتونکي هيڅ چيرته د دوزخ له اور څخه. البقره ۱۶۷

بيشکه هغه کسان چې کافران شوي دي او ظلم يې کړی دی (په پټولو د نعمت د محمد يا په منع د مؤمنانو له ايمان څخه) نه دی الله ج چې مغفرت وکړي دوی ته او نه چې وښيي دوی ته سمه صافه لاره (څو چې دوی کافران دي) مګر (وبه ښيي دوی ته) د دوزخ چې تل به وی دوی په هغه کې تل تر تله ( بې انتهاء بلا انقطاع) او دغه (ادخال او خلود فی النار) پر الله ج باندې ډير اسان دی. النساء ۱۶۸-۱۶۹

بیشکه الله ج رټلي دي کافران ( د بعثت منګران خپل له رحمت څخه) او تیارې کړې یې دي دوی ته سخت لمبې وهونکی اور. الاحزاب ۶۴
او هر هغه څوک چې نافرماني کوي او د رسول الله (ص) نو بیشکه هغه لره د دوزخ اور دی حال دا چې تل به وي په هغه (اور) کې او هیڅ چیرته به ترې نه خلاصیږي. الجن ۲۳

## دوزخ ساتونکي

غښتلې او سخت ګیره پرښتې د جنت ساتونکې دي چې هیڅ کله هم د الله تعالی نافرماني نه کوي. دوی یوازې هغه کار کوي چې ورته امر کړای شوی وي. الله تعالی فرمایي:
ای هغه کسانو چې ایمان یې راوړي دی تاسو خپل او خپله کورنۍ له هغه اور څخه وساتئ چې خس (لګونی) یې سړي او تږې دي. په دې اور باندې کلکې، زورورې، خطرناکې او زبردستې پرښتې مقررې دي. دا پرښتې د الله تعالی نافرماني نه کوي او هغه څه کوي چې الله تعالي ورباندې امر کړی دی. التحریم ۶
لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي، د دوزغ ۱۹ ساتونکي دي:

نو فرمايي الله (ج) چې ژر به داخل کړم دې سقر (د دوزخ اور ته). او څه شي پوه کړې چې څه شی دی اور د سقر چې نه پاتې کيږي (ترې هيڅ شی د غوښو بې له سوځولو او نه پريږدي (هډوکي بې له سوځولو نه) سوځونکي تورونکي دي (دغه اور بشره د کافرو) سړيو لره په هغه (اور د سقر) باندې ټاکلي دي نولس (۱۹) پرښتې. المدثر ۲۶-۳۰

څوک دې داسې نه ګڼي چې خامخا به په دې نولس پريښتو باندې غالب شي ځکه چې دا هره پرښته د نړۍ په ټولو (مخکې، اوس او ورسته) انسانانو باندې غښتلې ده. الله تعالی دا پرښتې په قرآن پاک کې د دوژغ ساتونکې معرفي کړي دي:

او وبه وايي هغه کسان (چې پراته دي) په اور کې خزانچيانو متصرفانو د دوزخ ته چې دعا وکړئ (زموږ لپاره) خپل رب ته چې سپک کړي له موږ څخه د عذاب يوه ورځ (چې لږ څه به ارام شو) غافر ۴۹
لکه څنګه چې په قرآن پاک کې راغلي دي، د دوژغ د ساتونکو د مشر نوم مالک دی:

بيشکه چې مجرمان به د دوزخ په عذاب کې هميشه پاتيکيدونکي وي، نه به سپک شي له دوی څخه (عذاب) او دوی به په دغه عذاب کې ساکت نا اميده وي (له

نجاته او نشاطه). او مونږ په دوی باندې ظلم نه دی کړی بلکه دوی خپله په خپل ځانونو باندې ظلم کړی دی (په خپل کفر سره). او غږ به وکړي جهنميان چې ای مالکه (خازنه د دوزخ) په مونږ دې ستا رب د مرګ حکم وکړي. وبه وايي مالک (خازن د دوی ځواب وروسته له زرو کلنو څخه) چې بيشکه تاسې ژوندی پاتې کيدونی ياست (په دوزخ کې). الزخرف ٧٨-

## د دورزخ د حال بيان(دو همه برخه)

د دورزخ هره دروازه د يوې تعين کړای شوې برخې دورزخ يانو لپاره ټاکل شوې ده چې هره برخه به له خپلې دروازې څخه دننده شي. هره برخه به د خپلو اعمالو او د دورزخ درجې مطابق ورننوځي. کله چې کافران دورزخ ته راوړل شي، د دورزخ دروازې به پرانيزل شي او هغوی به ورننوځی، او هلته به د تل لپاره پاتې شي:

### د دورزخ څيره ځای

په قرآن پاک او د رسول الله (ص) په سنتو کې د دورزخ

د موقعیت په اړه داسې کومه څرګنده اشاره نده شوې. له الله (ج) نه پرته بل هیڅ څوک هم د دوږزخ د ځای په اړه معلومات نلري. د بعضې ژب پوهنې شواهدو او بعضې احادیثو له متن څخه، پوهان په دې نظر شوي دي چې ښایي دوږزخ په اسمانونو کې وي په داسې حال کې چې بعضې په دې اند دي چې دوږزخ د ځمکې په آخرې پوړ (طبقه) کې شتون لري.

**اندازه**

دوږزخ غټ او بې حده ژور دی. موږ د دې حقیقت په اړه په مختلفو لارو باندې پوهېږو.
لومړۍ دا چې دوږزخ ته به بې حده زیاد خلک ورځي او لکه څنګه چې په مبارک حدیث کې راغلي د هر سړي شاتني غاښونه (غټ غاښونه) به د احد د غره (په مدینه کې یو غر) په اندازه وي [د امام مسلم روایت]. او د دوږزخ ي د اوږو فاصله د درې ورځو مزل په اندازه بیان شوې ده[ د امام مسلم روایت]. دوږزخ به ټول کافران او ګناهکاران د انسان د پیدایښت له ورځې څخه به ځان ته ځای ورکړي او بیا به هم نور ځای پکې تش وي، الله تعالی فرمایي:
«هغه ورځ رایاده کړه چې موږ دوږزخ ته وایو چې آیا ته له خلکو څخه ډک شوې او هغه به ووایي چې آیا نور

هم شته (یعنې خلک) یعنی زیاد کړه زه لا موړ شوی نه یم.» ق ۳۰
د دوزرخ اور داسې یوې ژرندې ته پاتې کیږي چې په زرګونو زرګونو تنه غنم پکې واچوې هغه اوړه کوي او د نورو غنمو په انتظار کې وي.
دوهمه دا چې که یوه تیږه د دوزرخ له سر نه واچول شي ډېر په ځنډ کې پای ته رسیږي. د رسول الله (ص) یو صحابه علیهم سلام کیسه کوي چې یوه ورځ له رسول الله (ص) سره ناست وه وه د یو شي د لویدلو آواز مو واورید. رسول الله (ص) له صحابیانو څخه وپوښتل چې څوک ویلی شي چې دا د څه شي اواز وو. کله چې صحابو علیهم السلام د دې موضوع په اړه د خپلې ناپوهۍ اظاهر وکړ، رسول الله (ص) وویل:
«دا یوه تیږه وه چې ۷۰ کاله مخکې دوزرخ ته اچول شوې وه او تر اوسه پورې د دوزرخ بل اړخ ته نده رسیدلې.» [مشکواة شریف]
په یوه بل حدیث مبارک کې داسې راغلي دي:
«که د ۷ بلاربو اوښانو د وزن په اندازه یوه ستره تیږه د دوزرخ له یوه کنج څخه واچول شي، هغه تیږه به بې دوزرخ کې د ۷۰ کلنو لپاره روانه وي خو بیا به هم د دوزرخ لاندې نه وي رسیدلې.» [صحیح الجامی]

دریم دا چې، ډیرې غټې پربنتې به دوزرخ د قیامت په ورځ راوړي. الله تعالی فرمايي:
«او دوزخ به په هغې ورځ کې راوستل شي.» الفجر ۲۳
محمد (ص) فرمايي:
«دوزخ به په دې ورځ د ۷۰ زره پړو په کارولو سره چې هر یو پړی به ۷۰ زره پربنتو نیولی وي، مخ را راوړل شي.» [صحیح مسلم]
او څلورم دا چې، په یو بل حدیث کې هم د دوزخ غټوالی داسې ښودل شوی چې ښايي د قیامت په ورځ به لمر او سپوږمۍ په دوزخ کې اچول کیږي. [تهاوی، بزار، بیهقی او نور]

## د دوزخ درجې

دوزخ د ګرمۍ او سزا مختلفې درجې لري، هره درجه یې د هغه درجې د اوسیدونکو او د هغوی د ګناهونو مطابق ساتل کیږي. الله (ج) فرمايي:
«بیشکه منافقان د دوزخ د اور په ډیره ښکته درجه کې دي او له سره به نه مومي دوی ته مددګار (له عذابه خلاصونکی)» [النساء ۱۴۵]
څومره چې د دوزخ درجه ښکته کیږي هومره د اور ګرمي هم زیاتیږي. ترځایه چې منافقانو ته تر ټولو

خرابه جزا ورکول کیږي، هغوی به د دوزرخ په تر ټولو ښکته درجه وي.
الله (ج) په قرآن پاک کې د دوزرخ د درجو په اړه فرمايي:
«او هرچاته (په ثواب او عقاب کې) درجې دي د هغه اعمالو له (جزا) څکه چې دوی ترسره کړې وي او ستا رب غافل (بې خبره) ندې له هغه شيانو چې دوې يې کوي.» [الانعام ۱۳۲]
«آيا نو هغه څوک چې د الله (ج) د رضامندئ متابعت کوي په شان د هغه چا دی چې بيرته راشي په قهر سره له (طرفه د) الله ( د الله د عضې مورد وګرځئ؟ بلکه ندی) او د ده ځای دوزرخ دی، او څه بد ځای د ورتلو دی (دا دوزرخ ). دوی (د الله تعالی د رضا د مختلفو درجو خاوندان) دي د الله (ج) په نزد او الله (ج) ښه ليدونکی دی په هغه شيانو چې هم دوی يې کوي.» [آل عمران ۱۶۳-۱۶۲]
## د دوزرخ دروازې
الله تعالی د دوزرخ د ۷ دروازه په اړه په قرآن پاک کې يادونه کوي:
«او بيشکه چې جهنم (دوزرخ ) ستا د دغو ټولو (تابعانو) ځای دی. چې دوزرخ اوه دروازې لري او هره

دروازه به د یوه قسمت ګمراهانو لپاره تعین شوې وي.»
[الحجر ۴۴-۴۳)
د دورزخ هره دروازه د یوې تعین کړای شوې برخې دورزخ یانو لپاره ټاکل شوې ده چې هره برخه به له خپلې دروازې څخه دننده شي. هره برخه به د خپلو اعمالو او د دورزخ درجې مطابق ورننوځي. کله چې کافران دورزخ ته راوړل شي، د دورزخ دروازې به پرانیزل شي او هغوی به ورننوځی، او هلته به د تل لپاره پاتې شي:
«او هغه کسان چې کافران شوي دي په شدت سره د دورزخ خوا ته ډلې ډلې شړل کیږي. تر هغه پورې چې دوی دورزخ ته راشي حال داا چې وبه پرانیستل شي دروازې د دغه (دورزخ )، او دوی ته به د دورزخ خزانچیان (متصرفان) ووایي آیا تاسو ته ستاسو له مینځ نه رسولان نه وه راغلي چې دغو (رسولانو د تاسې) به لوستل پر تاسو آیتونه (د قرآن پاک) د رب ستاسې او ویرول به دوی تاسي له ملاقات د هغې ورځې چې دغه ده، وبه وایي (کفار چې ولې نه وه راغلي) بلکه راغلي

وه ولیکن ثابته شوې ده کلمه (حکم) د عذاب پر



کافرانو.» [الزمر:۷۱]

وروسته له دې چې هغوی دوزرخ ته داخل شي، ورته به وویل شي:

«دوی ته به وویل شي چې د دوزرخ دروازو ته ننوځئ په دې حال کې چې تل به په دې کې اوسیدونکې وئ. نو بد ځای د هستوګنې د متکبرانو دی (دا دوزرخ )» [الزمر:۷۲]

لکه څنګه چې الله تعالی وايي، دروازې به وتړل شي او د تیښتې هیڅ هیله به پاتې نشي:

«او هغه کسان چې کافران شوي دي زموږ په ایتونو هم دوی اصحاب خاوندان د کیڼ خوا د بدې برخې دي، او په دوې باندې په اور سر پوښ کړای شوی وي.» [البلد:۱۹-۲۰]

همداراز الله تعالي بیا په قرآن پاک کې فرمايي:

«افسوس هلاک یا کنده د دوزرخ یا خرابي ده هر غیبت ګر عیب ګر ته، هغه (غیبتګر عیبګر) چې جمع کړی یې

دی او وار وار یې شمیرلي او ذخیره کړي دي، ګمان کوي چې بیشکه ده د مال به دی تل ژوندی لري، نه داسې نده (بلکه مړ او خلاص به یې نکړي دا مال له عذابه) قسم دی چې خامخا وبه غوځولی شي هرومرو دا (جمع کونکی) په هغه شي کې چې ماتوونکی سوځوونکی دی د هر شي او څه شي پوه کړې ته چې څه شی دی ماتوونکی سوځوونکی د هر شي. اور د الله دی بل کړای شوی هغه (اور) چې خیژي پر زړونو باندې (نو سوځوي یې)، بیشکه دا اور به په دوی باندې کړای شوی وي پهاوږدو رابنکلیو شویو ستنو باندې.» [الهمزه:۱-۹]

د قیامت دروازې د قیامت له ورځې نه مخکې هم تړل کیږي. رسول الله (ص) وایي چې دا دروازې د رمضان په میاشت کې هم تړل کیږي. [ترمذی]

## د دورزخ اوراخیستوني (هغه شي چې په دورزخ کې اور اخلي)

د دورزخ اوراخیستوني به تیږي او ځیلناک (کسان) وي، الله تعالي فرمایي:

«ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی (ای مؤمنانو) خپل ځان او کور کهول (د الله تعالی په اطاعت سره) له هغه اور څخه وساتئ چې خس اور لګونی بالنړ د هغه سړي

او تیرږي دي.» [التحریم:۶]
«نو که ونه کړای شو تاسو (دا کار) او له سره به یې ونه کړای شئ نو وساتئ تاسو (ځانونه) له هغه اور څخه چې خس (خشاک) بنیادمان او تیږې دي، چې دا اور د کافرانو لپاره تیار کړای شوی دی.» [البقره:۲۴]
او د دوزخ نور اور اخیستوني به هغه کافر شیان/کسان وي چې د خلکو لخوا په خدایي نیول شوي دي (یعنې عبودیت یې شوی دی):

«بیشکه تاسو او هغه (بتان، شیطانان) چې عبودیت ورته کوئ تاسو غیر له الله څخه خس (اور اخیستوني) د دوزخ یاست، تاسو (له خپلو معبودانو سره) دې دوزخ ته ننوتونکي یاست. [الانبیاء:۹۸-۹۹]

## د دوزخ د اوسیدونکو لباس (جامې)

الله تعالی موږ ته وایي چې د دوزخ د اوسیدونکو جامې به د دوزخ له اور څخه هغوی ته تیارې کړای شوې وي:
«کله چې (دوزخ یان) اراده وکړي د دې چې ووځي له دغه (دوزخ څخه) له غمه نو بیرته نو بیرته ګرځول کیږي دوی په دغه (اور) کې او (دوی ته به وویل شي) چې تاسو د (ډیر) سوځوونکي اور مزه وڅکئ. [الفجر:۱۹]

«او ته به دغه ګنهکاران (کافران) وبېني چې په دغه ورځ کې به تړل شوي وي له يو بل سره په ځولنو (غاړکيو او ځنځيرونو) کې، د دوې قميصونه به له نانزړو نه وي او د دوی مخونه نه به اور (دوزخ ) پټ کړي» [ابراهيم:۴۹-۵۰]

# د دوزخ د حال بيان-دريمه برخه

په دوزخ کې د خوړو او څښو څرنګوالی

په اسلامي منابعو کې د دوزخ د اوسيدونکو د خوړو او څښلو او د سوځيدلو درجې په اړه معلومات روکړای شوي دي

## د دوزخ تودوښه

الله تعالی فرمايي:

«او د کيڼ لاس ملګري څومره بد دي، د کيڼ لاس ملګري به په تاوده اور کې وي، او په سوځونکيو اوبو کې به وي او د لوګي په سيوري کې به تور شوی وي

چې نه بیخي سړی وی او نه به د عزت راحت وي.»
[الواقعه:۴۱-۴۴]
هر هغه شی چې انسانانو په دې دنیا کې د سړولو لپار کارول-هوا، اوبه او یا سایه- به په دوزخ کې هیڅ فایده نلري. د دوزخ هوا به ګرم شمال وي او اوبه به یې خوټېږي. او سایه به هم راحت کونکي یا یخونکې نه وي بلکه لکه څنګه چې په لاندې ایت کې بیان شوې ده سایه به د تور دود وي:
«او د لوګې په سیوري کې به ډیر تور وي» [الواقعه: ۴۳]
په بل ایت کې الله تعالی فرمایي:
«او هر هغه څوک چې (د اعمالو) وزن یې نو د ده مور (د اوسیدولو ځای) به هاویه وي او څه شي پوه کړې ته چې څه شی دی دغه (هاویه) اور دی خورا (ډیر) تود (چې کافران پکې پړمخې غورځول کیږي).
[القارعه:۸-۱۱]
الله تعالي دې په قرآن پاک کې دې ته اشاره کوي چې د دوزخ دود به څنګه له اور څخه پورته کیږي. هغه دود چې له اور څخه پورته کیږې په درې لیکو باندې ویشل کیږې. د دې دود سایه به نه څوک یخوي او نه به څوک د دوزخ له سوځونکي اور څخه ساتي. هغه سکروټې

چې به له اور ځخه بادیږې هره یوه به د یوې شانداری بنګلې به اندازه وي، داسې به ښکاري لکه د زړو اوښانو کاروان چې روان وي:

«ځې ولاړ شئ تاسو! هغه سیوري ته چې خاوند د درې ښاخونو ځانګو دی. چې نه به (دا سیوری) یخ وي او نه به د اور له لمبو ځخه (له دوی نه هیڅ شی) دفع کوي، بیشکه هغه (اور) په هسې بڅرکو سرو سکروټو سره (چې هره یوه به یې وي) لکه لوړه (اوچته) غټه مانۍ، ګواکې هغه (بڅرکې سکروټې قطار د) اوښانو زیړو تورو دی.» [المرسلات: ۳۰-۳۳]

اور به هرڅه سوځوی او هیڅ څه به هم بې سوځیدو نه پریږدي. د انسان پوستکی به سوځوي او هډوکو ته به رسېږي (همدا اور)، د مېدې داخل مواد به اوبه کوي (ذوب کوي)، دا اور به بیا (ورسته) زړه ته رسیږي او د بدن داخلي غړي (اجزا) به څرګندیږي (بیرون به ښکاریږي). الله تعالي د اور د سخت والي او تاثیر په اړه فرمایي:

« (نو فرمایي الله) ژر به داخل کړم دې سقر (اور د دوزخ) ته. او څه شي پوه کړی یې ته چې اور د سقر څه دی چې نه پاتې کیږي (ترې هیڅ شي د غوښو بې له سوځولو) او نه پریږدي ( هډوکي بې له سوځولو نه).

سوځونکی تورونکی دی (دغه اور بشره د کافرو) سړیو لره» [ المدثر ۲۶-۲۹]
رسول الله (ص) فرمایلي دی:
«کوم اور چې موږ یې پیژنو د دوزخ د اویایمې حصې یوه برخه ده. کوم چې وویل، ای د خدای (ج) رسوله! دا اور همداسې چې دی بسنه کوي!، هغه وویل: دا اور داسې دی لکه چې ۶۹ نوې برخې د دنیا اور نور هم پکې زیاد شوی وي.» [صحیح البخاری]
«نو وڅکئ (سزا خپله) چې له سره نه مونږ. پر تاسو پرته ( علاوه) له عذابه (د پاسه په بل عذاب باندې)» [النبأ: ۳۰]
«او راجع به کړو (مونږ) دوی لره په ورځ د قیامت کې (نسکور تلونکي د دوی د بدو عملونو په سوب) په مخونو خپل چې ړانده او ګونګیان به وي او کاڼه به وي ( د خپلو بدو اعمالو په سوب) د دوی ځای به دوزخ وي، هر کله چې (د دوزخ لمبې) غلې شي زیات به کړو دوی ته تیز اور» [الاسراء: ۹۷]
عذاب به هیڅکله کم نشي او کافران به هیڅ کله هم وقفه ونلري:
«دا هغه کسان دي اخیستی یې دی ژوند د دنیا په (بې انتها نعمتونو ده) آخرت، سپک به نه کړای شي له دوی

ځخه (دنیوي او اخروي) عذاب او نه به وي له دوی
سره مرسته چې د عذاب په دفع کې مرسته کولای
وشي.» [البقره:۸۶]

## د دوزخ د اوسیدونکو خواړه

د دوزخ د اوسیدونکو خواړه په قرآن پاک کې بیان شوي
دي. الله تعالی فرمايي:
«دوی ته به خواړه نه وي مګر له ترخې اغزي لرونکې
ونې ځخه» [الغاشیه:۶-۷]
خواړه به نه ځوک موړ کړي او نه به خوند کوي. دا
خواړه به هم یوازې د دوزخ د اوسیدونکو لپاره عذاب
وي. د قرآن به نورو ځایونو کې الله تعالی د دوزخ د
اوسیدونکو لپاره د خوړو لپاره د زقم د ونې یادونه کوي.
زقم یوه کرکجنه ونه دی، ریښې یې د دوزخ په بیخ کې
دي او ښاخې یې هرې خوا تللې دي. د دې ونې بدرنګه
میوه د شیطان سر ته پاتې کیږي. الله تعالی



فرمايي:
«بیشکه (میوه د ) ونې د زقوم طعام خواړه د (ډیر لویو)

ګنهکارانو (کافرانو) دي. په شان د مس (او ژیړ) ویلې
کړای شوې (تورې ختې د تیلو) چې ایشېږي په ګېډو کې
په شان د ایشیدلو اوبو خوټېدونکیو» [الدخان: ۴۳-۴۶]
«آیا دغه (نعمتونه د جنت) غوره دي له جهته د میلمستیا
(جنتیانو ته) یا ونهٔ د زقوم (غوره ده دوزخیانو ته).
بیشکه ګرځولې مو ده دغه ونه فتنه عذاب د پاره د
ظالمانو. بیشکه چې دا ونه ده چې راووځي په بیخ د
دوزخ کې.» [الصافات:۶۲-۶۸]
«بیا به بیشکه تاسو ای ګمراهانو دوزخ ویونکیو خامخا
خوړونکي به وئ (په دوزخ کې) له ونې د زقوم څخه نو
ډکونکي به وي له هغې (ونې) ګېډو خپلو لره، نو
څښونکي به وئ په هغه (زقوم خوړلي شوي) باندې له
اوبو سوځونکیو څخه نو څښونکي به وي (په شان) د
څښلو د اوښانو ډېرو تږو، دا (خوړل او څښل چې ذکر
شول) میلمستیا د دوی ده په ورځ د جزا انصاف کې»
[الواقعه:۵۱-۵۶]
د دوزخ اوسیدونکي به ډیر (خورا) وږي شي او له
مجبورۍ نه به د زقم له بدرنګې ونې څخه وخوري. کله
چې د هغوی نسونه له دې نه ډک شي دا به بیا لکه
ایشیدلي غوړ د هغوی په نسونو کې وي او ډیر درد به
ورته رسوي. په دې وخت کې به دوزخیان هڅه وکړي

ترخو ډیرې اوبه وڅښې د تښې اوښانو په شان خو دا اوبه به هیڅ کله هم د دوی تنده ماته نکړي. بلکه دا اوبه به د دوی داخل وسوځوي. الله تعالی فرمایي:
«اوبه ډیرې تودې نو پرې به کړي (ټوټې ټوټې به کړي دغه اوبه) کولمې د دوی (بلکه دوی هیڅکله سره برابر ندي)» [محمد:۱۵]
د زقم اغزن شاخې به د دوزخیانو په ستونو کې بند شي ځکه چې د زقم دا بوټی به ډیر ککړ وي:
«بیشکه زمونږ په نزد دي (د منکرانو لپاره په آخرت کې) ځنځیرونه درانه او سوځونکي. او طعام نښتونکي په مري کې (چې د زقوم او ضریع ونه ده) او عذاب دردناک.» [المزمل:۱۲-۱۳]
د اسلام رسول (ص) فرمایي:
«که د زقوم یوه قطره په دې نړۍ کې وڅڅیږي، د ځمکې ټول انسانان او د هغوی د ژوند ټولې چارې به له مینځه تللی وای. نو د هغه کس چې دا به خوري حال به یې څنګه وي؟» [ترمذی]
نور خواړه چې د دوزخ اوسیدونکو ته ورکول کیږي داسې یو ډول ککړ مواد دي چې ترې نه اور بلیږي او دا مواد د انسان له بدن څخه توییږي، بل هغه مواد دي چې د زنا کونکیو له مخصوصه اندام څخه او د هغه کسانو

چې پوست او اندام یې ویلې کیږي ترشح کیږي. دې خوړو ته د دوزخ د اوسیدونکیو جوس وایي. الله تعالی فرمايي:

«نو نن ورځ ده ته په دې ځای کې کوم دوست (دافع د عذاب) نشته او هیڅ خواړه نشته (چې وبې خوري) مګر خو (د دوزخیانو د زخمونو) له وینو او زوو ځنې چې نه خوري دغه (غسلین) مګر هماغه خطاکاران (ګنهکاران) یې خوري.» [الحاقه:۳۵-۳۷]

«دا دی عذاب د کفارو نو ودې څښي دوی دا ایشېدلې اوبه (چې ټوټې ټوټې کیږي د دوی کلمې) او (د دوزخیانو د زخمونو بدبویه) زوې. او د هغه تیر ډول عذاب په څیر څه بل (ډول عذاب) د عذاب له ډولونو نه» [ص:۵۷-۵۸]

وروستی دا چې، بعضې دوزخیانو ته به د دې لپاره چې جزا ورکړل شي، اور به ورباندې وخوړل شي. الله تعالی فرمایي:

«بیشکه هغه کسان چې خوري مالونه د یتیمانو په ظلم سره (غیر له شرعي اذنه) خبره دا ده چې خوري دوی په (ډکو) ګیډو خپلو سره اور، او ژر به ورسیږي (داخل به شي) دوی سخت اور ته.» [الاسراء:۱۰]

«بیشکه هغه کسان چې پټوي (دوی) هغه څه چې نازل

کړي دي الله (ج) چې کتاب دی، او پېرې دوی (اخلي) په دې (د پټولو په عوض سره) لږ قيمت. نو دغه کسان (چې د حق پټونکي دي) نه خوري (نه اچوي دوی) په خپلو ګېډو کې مګر اور (د دوزخ د اور موجبات)» [البقره:۱۷۴]

## په دوزخ کې څښاک

الله تعالی په قرآن کې د دوزخ د اوسيدونکو د څښاک په اړه فرمايي:

«او وبه څښي ورباندې ډيرې تودې اوبه نو پرې به کړي (ټوټې ټوټې به کړي دغه اوبه) د دوی کلمې (بلکه دوی سره هيڅکله برابر ندي)» [محمد:۱۵]

«او که (دوی له تندې) کريغې (فرياد) وکړي نو فرياد به يې واخيستی شي (په ورکولو د داسې) اوبو (سره) لکه زوې (يا د تيلو خټ) چې وريتوي به مخونه، بد شی د څښلو دي (دغه زوې)، او (دغه اور د آرام ځای) بد دی د انتفاع له وجې» [الکهف:۲۹]

«او پکې سوځي او ور وڅښل به شي (ورباندې په زوره) له اوبو (چې زوې او وينې سره ګډې وي او د دوزخيانو له ګېډو نه بهيږي) چې غړپ غړپ به يې (په تکليف سره) څښي او نه به وي نږدې چې تير کړي هغه (زوې په آسانۍ سره له ډير تريخوالي او بدبويي) او ده

ته به راشي (سختي ده) مرګ له هرې خوا (او له هر ځايه) حال دا چې نه به وي دى مړ کيدونکى (چې په آرامه شي) او له شا او په مخ د ده کې به غذاب ډير سخت وي» [ابراهيم:۱۶]
«دا دى عذاب د کفارو نو ودې څښي دوى دا ايشېدلې اوبه (چې ټوټې ټوټې کيږي د دوى کلمې) او (د دوزخيانو د زخمونو بدبويه) زوې.» [ص:۵۷]
د څښاک ډولونه چې د دوزخ اوسيدونکو ته به ورکول کيږي په لاندې توګه دي:
بې حده ګرمې (تودې) اوبه لکه څنګه چې الله تعالى فرمايي:
«ګرځي به دوى په مينځ د دوزخ او د ډيرو تودو او ګرمو اوبو په مينځ کې» [الرحمن:۴۴]
«ورڅښل کيږې به له ډيرې ګرمې چينې څخه (د ډيرې تندې د غلبې پر مهال)» [الغاشيه:۵]
د کافرانو له پوستکو او بدن څخه به زوې روانې وي.
رسول الله (ص) فرمايي:
«څوک چې نشه آور څښاک وکړي هغه به دې ته اړ وايستل شي چې هغه د خبل خټي هم وخوري. اصحابو کرامو وپښتول اى د خداى رسوله (ص)! د خبل خټه څه ده؟ هغه وفرمايل، د دوزخ د اوسيدونکو خولې يا په بل

عبارت سره د دوزخ د خلکو جوس.» [صحیح مسلم]
لکه څنګه چې رسول الله (ص) فرمايي، داسې څښناک
لکه ايشېدونکي غوړي:
«دا لکه ايشېدونکي غوړي دي، کله چې د سړی مخې ته
راوړل شي، سم دستي د هغه د مخ پوستکی په هغه
(ايشيدونکيو غوړو) کې لويږي.» [مسند امام احمد،
ترمذی]